شريعت

SHARIAT WEEKLY

اوونيزه

په اوونۍ كې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مركزي نشراتي ارگان

دريم كال دري ديرشمه گڼه برله پسي (١٣٣) يكشنبه د١٤١٩هق كال دصفرالمظفر (٥) ١٣٧٧ هـ ش كال د غبرگولي دمياشتي (١٠) د١٩٩٨ميلادي كال مي (٣١)

مسعود در صدد ايجاد يك فرقه نظامي متشـــــكل از جنرالان كمونيست رژيم سابق در كولاب - تاجكستان ميباشد

شاهدان عيني كه اخيراً از منطقه كولاب- تاجكستان به ولايت كندز بر گشته اند، به خبرنگار اعزامي هفته نامه شريعت در شهر كندز اظهار داشتند كه هم اكنون مسعود در صدد ايجاد يك فرقه نظامي متشكل از افراد و جنرالان كمونيست رژيم سابق در منطقه كولاب- تاجكستان به سركردگي جنرال گل محمد مشهور به (قوماندان گلي پهلوان) برادر جنرال ملك مفسد ميباشد.

آنها اضافه داشتند كه كشور روس به منظور اقامت همين افراد در ميدان نظامي كولاب - تاجكستان يازده بلاك رهايشي را در اختيار منسوبين اين فرقه قرار داده است كه مشهور ترين افراد اين فرقه را گلاب زوي، فريد مزدك، اسد الله سروري، نبي عظيمي، جمعه اخك ، يونس قانوني، داكتر عبدلله، آمر لطيف و ... تشكيل ميدهد.

آنها اين موضوع را هم خاطر نشان نمودند كه كشور روس در همين ميدان (ميدان نظامي كولاب- تاجكستان) ٦ فروند طياره جت را جهت بمباردمان مواضع نيرو هاي اردوي امارت اسلامي در شمال افغانستان در اختيار مسعود قرار داده است .

الهي فرمان

عدل (انصاف) وكړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډيــر نــږدې دى تقوا(پرهيزگــارى) ته . (سورة المائدة)

دمحترم ملا امير خان «متقي» ترمشرۍ لاندې دسياسي خپرونو او تبليغاتو دسمون كميسيون غونډه وكړه

د سياسي خپرونو او تبليغاتو د سمون د كميسيون لومړنۍ غونډه د اطلاعاتو او كلتور وزارت د سرپرست ملا امير خان متقي په مشرۍ د سرپرستي شورا په مطبوعاتي دفتر كې جوړه شوه .

د شريعت اوونيزې خبريال خبر راكړى : په دې غونډه كې د چارو د اداري عمومي رئيس محترم الحاج مولوي محمد طاهر انوري د سرپرستي شورا د مطبوعاتي دفتر رئيس محترم الحاج مولوي عبدالسلام مسلم د اطلاعاتو او كلتور وزارت نشراتي معين محترم مولوي رحيم الله زرمتي، د راډيو تلويزيون عمومي رئيس محترم پوهاند مولوي محمد اسحق نظامي ، د باختر د اطلاعاتي آژانس عمومي رئيس محترم مولوي محمد يعقوب قانع ، د شريعت اوونيزې سياسي مبصر او د ليكوال هيئت غړي غلورم مخ

سنگ تهداب يك محراب مسجد در ولسوالي ارمي ولايت پكتيا گذاشته شد

سنگ تهداب يك محراب مسجد در ولسوالي ارمي ولايت پكتيا قبل از ظهر مورخه ٤ صفر المظفر طي محفلي گذاشته شد.

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد در اين محفل بعد از آنكه آياتي چند از كلام الله مجيد قرائت گرديد محترم مولوي محمد صديق قادري ولسوال و آمر امر بالمعروف و نهي عن المنكر آن ولسوالي در رابطه به اهداف و برنامه هاي امارت اسلامي در جهت تطبيق كامل شريعت اسلامي صحبت نموده بعداً تني چند از اهالي در مورد اعمار و ساختمان مسجد وعده هرگونه همكاري را سپردند.

اخطاريهٔ امارت اسلامي افغانستان به كمونيست ها

هر آنكه بر عقيده منحوس و پليد كمونستي دعوت مي نمايد و ضد منافع مردم و ارزشهاي اسلامي عمل مي نمايد از جانب امارت اسلامي افغانستان به جــزاي اعمال شان ميرسد

كمونستها بايد از گذشته خود عبرت گرفته با اعمال شان ندامت نشان دهند و باعث اذيت ملت مجاهد افغانستان نگردند

عامل جنگ هاي بيست ساله، تمام بدبختيهاي كشور، شهادت بيش از يك و نيم مليون افغانان بي گناه، كمونستان بي وجدان مي باشند

هموطنان گرامي و مردم رنج كشيده افغانستان! همانطوريكه ميرهن و روشن است كه عامل تمام در بدري و خانه بدوشي ملت مسلمان و مجاهد ما و همه ويراني و با خاك يكسان شدن وطن عزيز ما و بالاخره ادامه بيست سال جنگ در افغانستان كودتا ننگين و سياه ثور ١٣٥٧ بوده كه به اثر اين جنايت و مداخله بزرگ و تجاوز بيش از يك و نيم مليون ملت مسلمان ما شهيد گرديدند. روحانيون و علماي بزرگ ديني اعم از مردان و زنان در زير چكمه هاي آهنين و تانك هاي غول پيكر آنان گرديده و بيش از سه مليون افغان در كشور هاي همسايه و بيگانه مهاجر شدند و صد ها هزار از هموطنان ما معيوب و معلول گرديدند . كمونستان تمام هستي و دارايي هاي عامه و سرمايه هاي مادي و معنوي وطن محبوب مان افغانستان را به غارت بردند، تماماً راه هاي مواصلاتي را تخريب و زراعت كشور را به تباهي كشانيدند. مدارس و محلات آموزش علوم ديني را از بيخ و بن بر كندند و از ارتش سرخ به داخل كشور عزيز ما دعوت بعمل آوردند ، ناموس خواهران افغاني ما را به خطر روبرو گردانيدند. و مليونها مابين را به خاطر از بين بردن و معيوب ساختن هزاران تن از افراد بي گناه جامعه مان دربخش اعظم كشور كشت نمودند و هيچ ظلمي باقي نماند كه كمونستان از اجرا و عملي ساختن آن اباورزيده باشند كه مثال روشن آنرا ميتوان شهادت دسته جمعي بيش از ٢٥ هزار تن از مردم مسلمان هرات در ظرف يكروز توسط كمونستان وحشي بر ص٥،٤

محترم الحاج محمد عارف خان والي ولايت كندز در مصاحبه با خبرنگار هفته نامه شريعت :

سال گذشته ما در موضع كندز قرار داشتيم ؛ اما امروز از مواضع كندز - تخار و كندز - بغلان صحبت ميكنيم

امروز مردم كندز اعم از پشتون، ازبك، تاجك، هزاره و... در همبستگي و يكپارچگــــي بسر ميبرند

فشار ، ظلم و وحشت مخالفين امارت اسلامي بر مردم شمال كشور زمينهء انفجار جبههء نام نهاد شمال را فراهم نموده است

شهر كندز كه در شمال كشور بين ولايات تخار، بغلان و مزار قرار دارد هم اكنون نفوس آن ولايت تقريباً به (٤٥٠٠٠٠) نفر ميرسد ٩٠٪ مردم آنجا به زراعت و مالداري اشتغال داشته و محصولات عمده زراعتي آن منطقه را گندم، برنج، روغن ، پنبه و خربوزه تشكيل ميدهد.

كندز را از بابت توليدات بيش از حد محصولات زراعتي اش كه در سطح كشور الگو ندارد، بنام كندو يا گدام افغانستان ياد نموده اند.

رويهمرفته خبرنگار هفته نامه شريعت كه اخيراً از آن شهر ديدن نموده است، مصاحبه، را با محترم الحاج محمد عارف خان والي ولايت كندز ترتيب داده است كه شما عزيزان را به خوانش آن دعوت ميداريم :

در آغاز محترم محمد عارف خان والي ولايت كندز وضع امنيتي و نظامي كندز را چنين تشريح نمود : الحمد لله ص٥،٤

پير خرافي و گمراه گفت :

طفل نومولود را زنده دفن كنيد اطفال بعدي در كودكي نمي ميرند!!!

بدين ترتيب مادر كلان خرافي نواسه چهار ماه اش را زنده دفن كرد

فيصل اباد : منابع منطقوي حاكي از آن است كه در يكي از مضافات فيصل آباد مربوط لاهور پاكستان مرد بي بنام عبدالرزاق كه هجده سال قبل عروسي كرده بود و حاصل اين عروسي چهار طفل بود كه در طفوليت جان به جان آفرين سپرده بودند. داشتن اولاد يك امر فطري بوده و هر مادر و پدر خواهش اولاد را دارند، بناً عبدالرزاق و مادرش جهت حل مشكل شان كه چرا اطفال وي در كودكي مي ميرند به نزد يك پير خرافي و گمراه (بوتي شاه) مراجعه مي كنند، پير مذكور بعد از مراقبه(!) دروغين به ايشان مي گويد : طفل نو مولود خويشرا زنده دفن كنيد، اطفال بعدي ديگردر كودكي نمي ميرند. اخر الامر مادر كلان خرافي و ص٥،٤

په ننگرهار كې د سپورتي نمايشنامو جشن جوړ شو

د سپورتي نمايشاتو او د ورزشي جشن له امله په دې وروستيو وختو كې د ننگرهار ولايت په ثقافتي مركز كې يوه غونډه جوړه شوه.

د جلال اباد له ښار نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ : غونډه د كلام الله مجيد څو ايتونو په لوستل كيدو سره پيل شوه او وروسته د المپيك د ملي كميټې عمومي رئيس په داسې حال كې چې د ننگرهار ولايت د دايريو شمير رئيسانو د المپيك د ملي كميټې د مشرتابه هيأت او د ورزش گڼ شمير مينه وال غلورم مخ

مسعود با ضعف اقتصادي مواجه است

رئيس جمهوريكه !! پول يك خباز را قُر گفت

دوكانداران و شاهدان عينيكه اخيراً از شهر هاي تالقان و بلخ به كندز مواصلت ورزيده بودند به خبر نگار اعزامي هفته نامه شريعت در كندز چنين اظهار داشتند كه در اين اواخر مسعود را جبهه سرد اقتصادي از پا در آورده است .

آنها اضافه داشتند كه به شمول عالم باي و رمضاني آن عده از قراردادي هائيكه با قطعات نظامي مسعود در تخار قرارداد يوميه مواد سوخت، و مواد ارتزاقي داشتند از طي يك و نيم ماه بدينسو در بدل تاديه مواد خويش يك پول هم بدست نياورده اند و جهت غلورم مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

و اعدوا لهم ما استطعتم ...

د هند پوځي ليونتوب او كه احمق توب؟

چو كردي با كلوخ انداز، پيكار
سر خود را به ناداني شكستي
سعدي«رح»

د هند حكومت په تير اخير د خپل احمقانه غرور له امله په سيمه كې اتومي اوربل كړاو تر هر چا مخكې به خپل ويې ترې ولس په كې وسوځوي؛

كه څه هم هندوان د خرافاتي عقيدې په بنسټ خپل مړي بې له زړه سوي نه په اور سوځوي خو هغه كار له مړيني وروسته او په انفرادي توگه وي؛

مگر د واجپاي تونډي كړنلاري شهكاري وكړه او بدلون بې په كې راووست چې خپل خوار او زار ولس په ډله ايزه توگه او په ژوند د لرگيو په ځاى په اتومي لمبو وسوځوي او په دغه توگه بې د ژوند له كړاوونو نه وژغوري؛

هند په سيمه كې پراخ هيواد دى او زيات نفوس لري، له دې سره سره چې عايداتي سرچينې لري مگر د نفوسو د ډېرښت له امله لوږه او غربت بيخي په كې عام دى او له څيټو بېلو افرادو او گوندي مشرانو پرته بې نور ولس له ستونزو نه ډك ژوند تيروي ، په سختو ناروغيو اخته دي په تيره بيا په دې وروستيو لسيزو كې د ايډز لعنتي ناروغي د سيمې د هيوادونو په پرتله په هند كې بې ساري پرمختگ كړى دى، كه هندي سر تمبه چاروآكو د خپل ولس تباهي غوښتلاى نو د ايډز ناروغي بې بيخي بس وه او له اتومي بې ساري لگښت نه پرته به دغه مطلب ته رسيدلي وو؛ هندي چاروآكي د انگريزي ځيښاك له ازادي نه راوروسته د خپل ويږي ولس د مړولو په ځاى په سيمه كې د برلاسي خوبونه ويني او سترو شيطاني ځواكونو لاپسې لمسولي دي، ږنگ شوي شوروي اتحاد بر آلا او په پريمانه پوځي مرستي وركولي او په اتومي تكنالوژي باندې بې له پخوا نه سمبال دوهم مخ

د اطلاعاتو او كلتور وزارت د شعر او ادب په اداره كې ادبي غونډه جوړه شوه

د هيواد د تكړه شاعر فيض الله محتاج په شعرونو باندې د كره كتنې په مقصد د اطلاعاتو او كلتور وزارت د شعر او ادب په اداره كې يوه ادبي غونډه جوړه شوه .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړى : په غونډه كې لومړى د كلام الله مجيد څو ايتونه ولوستل شول او وروسته د اطلاعاتو او كلتور وزارت د شعر او ادب د اداري مسؤول محترم ډاكتر باز محمد ښادمن د شعرونو د تحقيق او تدقيق په لاره كې ددغه شان غلورم مخ

به نقل قول از روزنامه «سهار»

سركها از شدت گرمي ذوب شده بود، سي نفر جان شان را از دست دادند

درجه حرارت در لاهور ٤٥.٧ و در سبي ٥٠ درجه سانتي گراد بود

پشاور؛ يك منابع خبري پاكستان گزارش دادند كه موج مهيب گرمي شهر هاي پاكستان را اباح گرفته بود طبق گزارشها بندش هوا و حرارت آفتاب آن قدر طاقت فرسا بود كه مرغان هوا از درخت و آشيانه بر زمين سقوط مي كردند و جان ميدادند، سركها از شدت ص٥،٤

د قلات په ښار كې په دې وروستيو وختو كې د يو مسجد د بنسټ ډبره كيښودل شوه

د زابل ولايت مركز د قلات په ښار كې په دې وروستيو وختو كې د يوې غونډې په ترڅ كې د يوه جومات د بنسټ ډبره كيښودل شوه .

په دغه جومات كې چې په پاخه او اساسي ډول ددغه ښار د خلكو په مالي مرسته جوړېږي په يوه وخت كې اوه سوه تنه لمونځ كوونكي ځائيږي. دغه راز د زابل ولايت د پخواني ودانۍ د بنسټ ډبره چې د تيرو رژيمونو په دوران كې بيخي ويجاړه او له استفادې نه لويدلې وه په دې وروستيو وختو غلورم مخ

بخاطر سهولت مردم يكباب شفاخانه در ولسوالي خاص ارزگان افتتاح و مورد استــــفاده قرار گرفت

يك باب شفاخانه اخيراً در ولسوالي خاص ارزگان ولايت ارزگان طي محفلي افتتاح و مورد استفاده قرار گرفت .

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر ارزگان خبر ميدهد در محفل بعد از ص٥،٤

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په‌پاکستان‌کی(۳) کلداری
پوست بکس : (٤٧١) تیلفون: ۲۰۰۷٥
په پیښور کي :دطالبانونمایندګی‌تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱٥۷-۸۱٥٦۲۷
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

کړي ؤ، په هغه وخت کي شوروي اتحاد غوښتل چي خپل کمونیست رقیب چین ورباندي وځپي او هم په سیمه کي د امریکي ګټي تهدید کړي خو هندي چارواکو پاکستان تر بل هر چا ته زیات تهدیداوه او ډېر ځله یې پوځي تیري ورباندي وکړ مګر د پاکستان مسلمان ملت او پوځ یې غاښونه ورمات کړل، ددغه پوځي لیوتتوب او بر لاسي غوښتني په بهیر کي هند له اوس نه څلورویشت کاله پخوا په ۱۹۷٤ م کال کي اتومي چاودنه وکړه او په سیمه کي یې یې کچه تهدید رامنځ ته کړ مګر لهجه یې احتیاطي وه، له هغي ورځي نه پاکستان د خپلي ملي خپلواکي او ځمکني بشپړتیا په هکله نوي سوچ له ځانه سره وکړ او کرار کرار یې په خپلو وسائلو او خپلو ماهرانو د ځان په تیاري پیل وکړ؛

هند په‌دا وروستـه کلونو کي له اسرائیلو سره پټ او ښکاره اړیکي پیل او نوي پر مخ تللي اتومي تکنالوژي یې سیمي ته راولېږدوله؛

دا دي اوس د (بي جي پي) ګوند نوي حکومت هر څه را لوڅ کړل او د ۱۹۹۸م د مي په ۱۱ مه او ۱۳ مه یې په اتومي چاودنو سره په سیمه کي اتومي اوربل کړ، د امریکا او غرب عکس العمل او بندیزونه د هند په هکله دومره جدي او توند نه وو لکه بیا چي وروسته د پاکستان د اتومي ځواب ورکولو په وخت کي و په دي برسېره‌په همدغه ورځ جهاني بانك هند ته د پنځوسو و ملیونو دالرو پور ورکولو ژمنه اعلان کړه له دي نه د کټونکو هغه اټکلونه سم وختل چي امریکا د منځني ختیځ مسلمانان په اسرائیلو تهدیدوي او په سویلي اسیا کي مسلمان ځواکونه په هند باندي ځپي او دا هم په ډاګه شوه چي د هند اتومي زوکړه (زېږېدنه) د دوو پلارانو (شوروي او امریکا) له پلوه ده؛

څرنګه چي وروستي چاودني د هند پوځي غرور او برلاسي هوس په پوځي او اقتصادي بلا بدل کړ، پاکستان له پخوا نه احتیاطي‌رویه لرله او له پټ اتومي چمتووالي سره سره‌یې نه غوښتل چي تر څو پوري کلکه اړتیا نه وي - ځان په اقتصادي بندیزونو کي راګیرکړي، دوستانو او خواخوږیو اړخونو هم دغه مشوره ورکوله مګر هند له وروستیو چاودنو راوروسته دومره یې واکه مست او بي سده شو چي د پاکستان په پولویې لمسوونکي خوځښتونه پیل او په خوله یې هم د تیري پټکي ورته کولي او سپکي ستوغي یې ویلي نو ځکه یې پاکستان اتومي چاودني ته اړپوست او بله یې هیڅ لاره نه وه د پاکستان وزیر اعظم پخپلو خبرو کي وویل د نړیوالو او اسلامي امت اندیښنه په ځاي وه خو موږ بله لاره نه لرله د پاکستان مشران له پخوا نه له هندي پلیت مزاج سره بلد وو او پوهیدل چي که ځان د کلکي مقابلي لپاره چمتو او سمبال نه کړي نو هر څه به یې له خطرونو سره مخامخ وي، همداسي وشول او اټکلونه یې ټکي په ټکي رښتیا وختل؛

اوس نو د واجپاي سرته لېږدور غلل او له یونایټید نیوز سره یې په مرکه کي وویل چي: «هند پاکستان یا کوم بل هیواد ته خطر نه دی او نه هم د پراختیا غوښتني مطلب لري (!) موږ په پام کي لرو چي له پاکستان سره بیا خبري پیل کړو، له چین سره هم دوستانه اړیکي غواړو، اتومي چاودني به له پاکستان سره زموږ په اړیکو بده اغیزه ونه کړي ... »

اوس به دا سوچ هم کوي چي د هند اتومي زور خو له ګواښ سره مخامخ شو، نو بیا دا دومره لګښتونه او هلي ځلي د څه لپاره وي؟

د پاکستان اتومي چمتووالي په سیمه کي د پوځي انډول او توازن له ساتني سره سره په ټوله اسلامي نړي کي بوازېنی او تر ټولو لومړي چمتووالي دي چي ټول مسلمانان دي ویاړ ورباندي وکړي او که په پاکستاني ولس د بندیزونو له پلوه تنګسیا راتلله د شتمنو اسلامي هیوادونو اسلامي دنده او مکلفیت دي چي بوازي یې پري نه ږدي او ستونزو ته یې اوږه ورکړي، ځکه دغه ویاړ د ټول اسلامي امت سره شریك دي،

ربنا افرغ علینا صبراً ...

د نوټ کولو خبره

ګڼو خپرونو په ملګرو ملتونو کي د ښاغلي برهان الدین رباني د شړل شوي حکومت د استازي داکتر عبدالغفور روان فرهادي هغه مرکه خپره کړي چي په دي وروستیو کي یې د امریکي غږ له رادیو سره د بشر د حقوق د نړیوالي اعلامیي په اړه کړي ده.

ډاکټر فرهادي وایي چي د ښاغلي رباني په حکومت کي د ښځو د حقوقو ساتنه کیده په هغه وخت کي داسي ښځي وي چي جنرالي ته هم رسیدلي وي.

حقیقت دا دي چي د استاد په واکمني کي خو جنرالان هم له ځمکي راټوکیدل او هم له هوا رااوریدل، د یوه بهرني ژورنالست په وینا په دغو څو کلونو کي په افغانستان کي د جنرالانو شمیر دومره شو چي د «ناټو» لا هغي ته نه شواي رسیدلي، د شپي د مهمو خبرونو په سرویس کي به لس دقیقي د جنرال جوړېدني خبر ورنه خپریدل.

د استاد رباني په حضور کي به چي په ارګ او یا هم د ډکو په سمڅوکي څوك مشرف شول نو د جنرالي فرمان به یې ګټلي ؤ، ځکه خو یو بهرني ژورنالست په طنز سره افغانستان د جنرالانو وطن بللي ؤ

ډاکتر روان د رباني صاحب د حکومت وختونو «ماضي» خبره کوي، ددي خبري معنا دا کیداي شي چي اوس د استاد رباني حکومت او حاکمیت نشته که واي نو اوس به هم تور سري جنرالاني وي، دده لوړه خبره د رباني صاحب د حکومت د له منځه تلو اعتراف دي چي ښایي ملګري ملتونه او نور اړخونه یې نوټ کړي.

سمندر غورباني که د امریکي په امید خپرونه کي هر څو دا ولیکي چي پنځوسانه د نادري کورني په ۵۰ کلنه واکمني کي «مادر زاد جنرالان» وو خو که د استاد رباني په څلورنیم کلنه پادشاهي کي د جنرالانو احصائیه واخیستل شي او مقایسه کړي شي څرګنده به شي چي د شپېتو کلونو مادر زاد جنرالان ډېر دي او که د څلورنیمو کلونو چي ګدا او فنا ټول پکي جنرالان شول، ځکه خو دغه جنرالي نه بواځې دا چي اعزازونه ګڼل شو بلکي مسخره وګرځیدي. اوس نو که د یو دوو تور سرو لپاره د ډکو له سمڅو نه ددغسي فرمانونو توشیح ښاغلي فرهادي د ښځو حقوق ګڼي نو هغه دردوونکي پېښي به څه وي تر خاورو لاندي کړي چي د ګلم جم، حزب وحدت او مسعود د بریځو د باغي هوسونو له لاسه نه د تور سرو عزت خوندي ؤ او نه عفت.

آخر د دوي پوستي، قرار ګاوي او مرکزونه د بي ګناه تور سرو پر عزتونو او عفتونو د لوبو او سوداګري اډي نه وي. یو دوو تور سروته چي د ډکو له سمڅونه رباني صاحب د جنرالي فرمانونه جاري کړي هغه د ښځو د حقوق درناوي شو خو د هغو سلګونو تورسرو له عزت او عفت سره چي کومي لوبي شوي هغه ګڼي له چا هیري دي؟ په بازار او لارو کي خو پرېښوده چي په کورونو کي هم د کابل تور سري خوندي نه وي، سړي نه پوهیږي چي د ښاغلي فرهادي ایمان او ضمیر پدي اړه څه حکم کوي؟ د جنرالي په رتبو به تور سري څه وکړي،

استاد رباني به ددغو رتبو پر ځاي د ښځو د عزت او عفت ساتنه کړي وه او پر هغوي به یې د تیري او سوداګري مخه نیولي واي.

سبا به ښاغلي فرهادي دا هم د افغاني ښځو دحقوقو درناوي ګڼي چي د مزار په هوایي ډګر یې په نیمه برېنډ صورت د ریچاردسن مخي ته د ګلونو له ګیډیو سر ودرولي او هغه یې په مینه او شوق لاسونه کیښتل خو دي ورته په خپله ځانګړي قواره موسك موسك کیده، اخر ده خو د جهاد په دوران کي امان الله خان د ښځو په آزادي کافر باله نن څنګه له هغي نه بدتر کفر ده ته روا شو چي ښایي سبا یې فرهادي دده د حکومت په حسناتو کي وشمېري.

د داکتر فرهادي یوه بله خبره دا ده چي: هر هغه حکومت چي ادعا کوي چي په کومه سیمه یا قلمرو کي قانوني حکومت لري، لومړني مکلفیت یې دا دي چي هغه ټول تړونونه چي له‌ملګرو ملتونو سره یې لري په ځاي کړي او پخپلو سیمو کي د ملګرو ملتونو د افراد ادارو او شتمنیو ساتنه وکړي، خو له فرهادي نه ښایي دا خبره هیره وي چي په اصطلاح دده متبوعه حکومت څو څو ځله د خپلي امپراتوري په پایتخت «مزار» کي د ملګرو ملتونو دفترونه چور او لوټ کړل، موټر یې تري وتښتول او نغد او جنس هر څه یې لوټ کړل، یو داسي حکومت! چي نشي کولي د خپل حاکمیت په قلمرو کي د ملګرو ملتونو د ادارو ساتنه وکړي د هغي استازي په کومو سترګو د ملګرو ملتونو د بشر د حقوقو د کنوانسیون او نړیوالي اعلامي په اړه خبري کوي او ملګري ملتونه هم په کومو سترګو هغه د داسي یوه حاکمیت د استازي له توګه مني چي په پایتخت کي د ملګرو ملتونو د نمایندګیو د دفترونو، ګودامونو او شتمنیو ساتنه نشي کولي که ملګري ملتونه د علامه اقبال په وینا:

برفتند تا روش رزم در این بزم کهن
دردمندان جهان طرح نو انداخته اند
من از این بیش ندانم که کفن دزدي چند
بهر تقسیم قبور انجمني ساخته اند

وي نو بیا د رباني صاحب له حاکمیت سره یوه مشترکه وجه او ورته والي لري او همدغه مشترکه وجه ده چي د افغانستان چوکي یې پر هغوي لورولي ده.

پټي پاڼي

شهرت ننګیال

د پاکستان اتومي چاودنه د اسلامي امت غوښتنه وه

داکتر محمد نذیر احمدزي

له کله نه چي انشتاین وکولای شول له اتومي انرژي څخه د ګټي اخیستلو راز کشف کړي ورسره جوخت د نړي زېښونکو (استثمار ګرو) او د نورو له شتو نه د ځان ودانوونکو (استعمارګرو) هیوادونو واکدارانو له دي ګټهوري او حیرانونکي انرژي زېږوونکي مادي څخه د خپلو ناروا غوښتنو د لاسته راوړلو په تکل هڅي پیل کړي ساینس پوهان یې پوځي اړوته کش کړل او د پوځي اهدافو لپاره یې د اتومي انرژي د کارولو په خاطر وګمارل هماغه و چي په دوهمه نړیواله جګړه کي د اتومي بمب ورانوونکو او سوځوونکو لمبو د جاپان د هیروشیما او ناګاساکي ښارونه په لمبو او لوګیو کي پټ او په لسهاو زره خلك یې د مرګ خولي ته ور دننه کړل او دوهمه نړیواله جګړه د همدي بم د هیبت او وړانکاري په نتیجه کي د متحدینو (امریکا انګریز روس، فرانسي او ...) په ګټه پاي ته ورسیده، نړي ددي څو پراختیا غوښتونکو هیوادو تر منځ وویشل شوه او له امریکي څخه نیولي تر فرانس پوري د متحدینو هر هیواد د څو څو هیوادونو څښتنان شول، د اتومي بم د استعمال کومه خوږه مزي چي دوي وکړه او کوم خوند چي له دي خوږي مزي څخه دوي واخیست د دوهمي نړیوالي جګړي دغه ګټونکي د لازیاتو خوندونو په هیله نور هم وهڅیدل او له اتومي بم څخه یې د نورو پر مختللو او ورانوونکو کیمیاوي او بیولوژیکي وسلو جوړولو ته ملا وتړله او په پاي کي یې داسي وسلي جوړي کړي چي د هغوي له استعمال سره به نړي وي، تمدن به وي، ښارونه او ټول مادي جوړښتونه به وي خو انسان به نه وي یعني د «تمدن بدون انسان» د زیري ورکوونکي وسلي څښتنان شول چي همدا اوس دا وسلي د امریکي، روس او ځینو نورو هیوادو په خاصو وسله تونونو کي زیرمه دي او ددي وسلي تر څنګ دومره اتومي بمونه له همدغه په اصطلاح بشر پالو هیوادونو سره شته چي د هغو په استعمال سره ټوله انساني نړي ورانولي شي، د اتومي وسلو درلودونکو پنځو هیوادو (امریکي، روس، چین، انګریز، فرانس) د همدي وسلي د امتیاز په درلودلو ځانونه پر نړیوالو باداران او حاکمان کړل او د ملګرو ملتونو د امنیت په تش په نامه شوراکي یې هر راز فیصلو د ویټو حق ځان ته خپل کړ، که څه هم د ختیځ او لویدیز تر منځ د سړي جګړي په مهال د اتومي وسلو د سیالي ناتو او وارسا تر منځ د یو بل د ویرولو په نیت کیدلې خود اسلامي نړي ګواښ ددي دواړو ډلو په سترګو کي وه په همدي لامل امریکي له اسرائیلو سره د اتومي وسلو په جوړولو کي پوره مرسته وکړه او روسي له هند سره کله چي د افغان اسلام پال او میړني مجاهد ولس د سرښندني له برکته کمونیستي نړي ړنګه شوه نو اسلام په نړي کي بواځني قوت پاتي شو چي غربي نړي یهود او نصاري، ترینه په ویره کي پاتي شول غربیانو د اسلامي خوځښتونو او پر اسلام ټینګو هیوادونو د ځپلو په خاطر خپلي هڅي ګړندي کړي او په دي لړکي یې د منځني ختیځ د مسلمانانو د ټکولو په خاطر اسرائیل هر راز وژونکو وسلو سمبال کړ او د جنوبي آسیا د اسلامي هیوادونو د ځپلو لپاره یې هند ته پوره اتومي تکنالوژي ولیږدوله، انکار نه منونکي شواهد شته چي هند خپله اتومي تکنالوژي لمړي له روسیې او په دا څو وروستیو کلونوکي د اسرائیلو له لاري له امریکې څخه تر لاسه کړي خبره په دي کي ده چي څو ورځي مخکي متعصبو هندو مشرانو د پاکستان د مسلمان ولس د ویرولو او د کشمیر له مسلمانانو څخه د پاکستاني ولس او حکومت د ملاتړ د قطع کولو په غرض پنځه پر له پسي اتومي چاودني وکړي په ځواب کي غربي نړي په داسي حال کي چي په خپله یې هند ته د اتومي ځواك تکنالوژي ورکړي وه په ډېره منافقانه لهجه دغه چاودني په اصطلاح وغندلي او تش په نامه بندیزونه یې پري ولګول د هند له اتومي چاودني سره سم اسلامي نړي خصوصاً پاکستان سخت ټکان وخوړ او ټول اسلامي امت د نړیوال کفر لخوا د مسلمانانو د تباهي د پلان له کبله په ویره کي پریووت او دا خیال پوخ شو چي نړیوال کفري ځواك د اسلامي امت د ختمولو لپاره پوره چمتو والي لري مسلمانان له یوي خوا د اسرائیلو په واسطه او له بلي خوا د هند له اړخه تر اتومي محاصري لاندي راغلي چي هره ګړي کیدي شي د هند او اسرائیلو د ګډو اتومي عملیاتو په ترڅ کي اسلامي نړي تباه شي په داسي یوه ویرونکي فضا کي چي اسلامي امت لا پوره ویښ شوي هم نه و د هند اتومي چاودنو د ډېر نژدي خطر ګواښ بر بنډ کړ. په منځني ختیځ کي د مسلمانانو پر مختللي پوځي تکنالوژي چي له عراق سره وه د نړیوال کفر لخوا د یوي دسیسي په ترڅ کي له منځه وړل شوي وه او په جنوبي آسیا کي د داسي پر مخ تللي وسلي د درلودلو هیله په مسلمانانو کي بواځي له پاکستان څخه کېدله نو ټول اسلامي امت د کفارو ددي نژدي ګواښونو د ځواب هیلي بواځي له پاکستان څخه کولای شوي د پاکستان اسلامي جمهوریت چي د علامه اقبال «رح» په شان د اسلامي امت د یووالي د آرمان درلودونکو مشاهیرو له افکارو څخه خړوب شوي و له پخوا څخه یې د کفارو د اتومي ګواښونو د ځواب په تکل اتومي تکنالوژي ته وده ورکړي وه او اتومي وسلي یې د ځان اواسلام د ساتني په غرض جوړي کړي وي خو په نړي کي د سولي د پایښت په خاطر یې دغه وسلي ته استعمالولي کله چي هندوانو هیڅ راز سیمه ایزو او نړیوالو انساني مصالحو ته پام ونه کړ او اتومي وسلو ته یې لاس کښي نو د ددي وخت راورسید چي نور باید مسلمانان ذلیل پاتي نشي، د پاکستان اسلامي ولس باید نور د هندوانو کترو او تعانو ته حرحر ونه ګوري او نور نو اسلامي امت د کفري نړي د اتومي ګواښونو له ویري هغوي ته صاحب ونه وایي بالاخره د پاکستان اسلامي حکومت د اسلامي نړي د هیلو او غوښتنو، د پاکستان مسلمان ولس د عزت او خپلواکي د ساتلو او پاکستان د اسلامي خاوري د دفاع په منظور فیصله وکړه چي د هند ځواب به په تره او میړانه په اسلامي غرور او غیرت په ایماني جذبي او قوت او په جهادي تکل او طاقت سره ورکوي او الحمد لله چي همداسي وشول د پاکستان وسلهٔ‌ال پوځ د هندوانو د ګواښونو په ځواب کي پنځه پر له پسي اتومي چاودني وکړي هند او ټولي کفري نړي ته یې وښوده چي اسلامي امت یو خپلواك، میړني، مجاهد، پر ځان مین او عزتمند ځواك دي پرته له الله«ج» څخه له هیچا ویره نه لري او له هیچا څخه مرسته نه غواړي، د پاکستان د اتومي چاودنو په ځواب کي چي نړیوال کفر کوم تند او تریخ غبرګون وسود هغه د هندوانو پر خلاف د غبرګون په پرتله ډېر سخت و هغوي په ګډه پاکستان په اقتصادي بندیزونو تهدید کړ او له لوري نه یې وویرول خو پاکستاني ولس اواسلامي امت په دي ایمان لري چي روزي ورکوونکي بواځي الله«ج» دي د کفارو دغه دړکي به هیڅ ځاي ونه نیسي، د پاکستان اتومي قوت جوړېدل ټول اسلامي امت ته د عزت او خپلواکي یو نوي زیري او د اسلام د تر لاسه تللي تیر برم د احیا، په لور د خوځښت د روڼ سباوون ځرك دي دا قوت د ټول عالم اسلام قوت دي دا فتحه د ټول اسلامي امت لپاره د ویاړ او هیلو د سندر ځپي دي.د پاکستان مسلمان ولس دي ډاډه اوسي چي الهي مرسته او د اسلامي امت ملاتړ له دوي سره ده دوي د اسلام د دفاع په سنګر کي بواځي نه دي د نړي تر یوولس سوه ملیونو زیات مسلمانان د دوي تر څنګ ولاړ دي د نړي هر مسلمان به د خپلي خولي مړي له دوي سره تیمایي کوي او له دوي څخه به کلکه دفاع کوي او د کوم عزت په خاطر چي اسلامي نړۍ ته د پاکستاني مسلمان ولس د همت او میړاني له برکته رسیدلي دي د نړي مسلمانان د پاکستاني مسلمانو وروڼو دفاع، مرسته او ډاډګیرته خپله فریضه بولي. اوس چي په اسلامي نړي کي له کفارو سره د سیالي قوت پیدا شوي ټولو مسلمانانو ته په کار دي چي ژرتر ژره پر یو غږ د پاکستان له اتومي قوت څخه ملاتړ اعلان کړي د کفارو د بندیزونو په ځواب کي تر خپلي وسي پوري هر څه چي لري د خداي د رضا او د اسلام د لوړتیا په خاطر یې پاکستاني ولس ته ولیږدوي او د خپلو مرستو د کاروانونو په جریو سره دا وښیي چي اسلامي امت یو متحد او وړور قوت دي او د شرق مسلمان به د غرب له مسلمان څخه دفاع کوي او د شمال به د جنوب له مسلمان څخه.

د اسلامي هیوادو مشران دي په دغه تاریخي حساس پړاو کي خپل مسؤلیتونه درك کړي او څنګه چي د اسلامي ارشاداتو غوښتنه ده خپل مسلمان پاکستان ورونه د کفارو ګواښونو ته یواځي پرېنږدي او ژر تر ژره داسلامي کنفرانس د مشرانو غونډه جوړه او دا فیصله وکړي چي هر هغه هیواد چي پر یوه مسلمان هیواد باندي کوم بندیز لګوي ټول مسلمان هیوادونه به په ګډه له بندیز لګوونکي هیواد سره خپلي اړیکي پري کوي که اسلامي هیوادونه سره یو شول او په میړانه یې د کفارو ځواب وویل نو بیا به وګورو چي پر کفري نړي بواځي داسلامي هیوادو د تیلو په بندیدو سره همدا مغرور کافران هغوي ته تلواني راځي او که نه؟

سیر تحول خانقاه و پیدایش آن

۱۵

تتبع و نگارش از مهر الله دردمند

وضعیت خانقاه ها در دوره رژیم کمونیستی

در دوره تسلط زمامداري کمونیست هاي خلقي و پرچمي در کشور ما در پهلوي تحریفات و تغییرات دیگر ابعاد فرهنگي، سردمداران رژیم در اولین فرصت ایام حکمروایي خویش به حریم مقدس خانقاه ها حملات وسیع را آغاز نمود. مراکز دیني از جمله خانقاه ها که تا آن وقت از احترام خاص و ویژه ي برخوردار بود، رژیم مذکور به منظور قلع و قمع فرهنگ معنوي اسلام و از هم پاشیدن آداب و رسوم افغاني ، بخش اعظم اقدامات و محراق توجه خویشرا به رشد فرهنگ بي مایه الحادي معطوف نمود. چنانچه وسایل اطلاعات جمعي در آن وقت روي اغراض شوم کفري و به بیراهه کشیدن نسل هاي بعدي بنیانگذاري گردید. دژخیمان و جلادان نابکار و نا عاقبت اندیش در ۲۹ جدي ۱۳۵۷ دست تجاوز خویشرا از آستین چکامه استکباري و بیگانه پرستي خویش بیرون کشیده و نخستین حملات خونبار سرتاسري خود را متوجه مرشدان طریق معرفت، خانقاهیان اصیل و خانواده هاي اهل جود و سخا (روحانیون) نمودند. چه ناروا نبود که نکردند، چون گرگان گرسنه و خون آشام دستهاي خود را بخون مقدس بیگناهان به جرم اینکه مسلمان اند رنگین نمودند، تفصیل و شمه یي از این جنایات در شماره ۱۲۸ جریده وزین شریعت تحت عنوان «شکست سکوت» بقلم دانشمند گرانمایه محترم م. مهجور «قبلاً برشته تحریر در آورده شده است. عمال رژیم مذکور در اوایل ایام حکمرواي خویش خباثت باطني خویشرا به قتل دسته جمعي روحانیون، تاراج نمودن اماکن مقدسه، ویران نمودن خانقاه ها و دیگر مراکز روحاني تبارز داده و هم بخاطر اغفال و اغوا عوام الناس غرض تحقق امیال شوم کفري و هدف سیاسي خویش تبلیغات نا مطلوب و زهراگین را علیه مرشدان طریقت و خانقاه ها براه انداخته و درین مسیر از هیچ وسیله بي دریغ نورزیدند.

به شهادت رسانیدن علماً حقاني و مشایخ کرام روحاني در تمام نقاط کشور از جمله در ولایات جنوب غرب کشور ،قندهار و کابل باستان، اختطاف مرشدان و رهروان طریقت محمدي«ص» نظیر روحانیون برجسته و معروف قلمرو تصوف و عرفان چون حضرت سید بهاالدین نقشبندي مجددي مربوط حضرات سیاهبند مسکونه قریه طولڼ شریف ولسوالي پرچمن ولایت فراه با دو پسرش و به شهادت رسانیدن شیخ صاحب مبارك ، داد محمد ده خواجه ولایت قندهار، دست درازي و تاراج اموال خانقاه حضرت صاحب نور المشایخ در قلعه جواد کابل و به شهادت رسیدن هفتاد نفر از منسوبین این خانواده روحاني دلیل دیگر بر ثبوت ادعاي مطلب فوق مي باشد.

بعد از گذشت زمان در دوره سلطه و حکمروایي نجیب رژیم پوشالي بخاطر شکار هر چه بیشتر جوانان عقیده مند و مومنین این دیار مرد آفرین و حماسه ساز نیرنگ و تذویر دیگر را بخاطر ادامه قدرت سیاسي خویش بکار گرفت.

رژیم الحادي با درك این حقانیت که ملیت هاي با هم پیوند این خطه تاریخي حتیٰ با اهدأ نمودن آخرین خون قطره خون خویش حاضر نیستند از دین و آئین مقدس خویش و از علاقه مندي شایاني که به سلوك و طریقت دارند صرف نظر نمایند مانور جدید را رویدست گرفت.

عمال رژیم به فکر و حیله دیگر بر آمده به ایجاد و تأسیس به اصطلاح خانقاه!! در بعضي از نقاط کشور از جمله در شهر کابل مبادرت ورزید. اشخاص مغرض فرصت طلب و استفاده جو را که اکثراً فاقد آگاهي معنوي از طریقت و معرفت که بر پیوند شریعت استوار است به مثابه پیران فرمایشي و مرشدان ساختگي که شجره نسبي شان مجهول و سلسله معنوي آنان نا معلوم بروي صحنه کشانیده شد.

«پیران مزور خلاف شریعت و طریقت و اصول خانقاه با کسب دستورات از رژیم دست نشانده به فریب و تزویر مردم باور مند مصروف شدند. این دسته نا بکار کذابي که خود را شیخ و مرشد، خلیفه طریقت و پیر خانقاه معرفي میکردند از جهل و بیسوادي اشخاص استفاده کرده با تأسف و اندوه و درد فراوان بسیاري را از جاده صراط المستقیم منحرف ساختند.» شکست سکوت -(م.ع.مهجور).

بالاخره کار بجایي کشید که اشخاص مفتن، مارگیر و شعبده باز و ساحر که کار و بازار آنان به حیله و نیرنگ و استدراج (مهلت و فرصت معین از جانب پروردگار عالم«ج» جهت گمراهي هر چه بیشتر و عذاب اخروي ایشان) استوار است ازین مسابقه به عقب نمانده با ماسبت مالي بروي سیاه خویش نقاب تظاهر و ریا را پوشیده و خود را بنام مصلح، فقیر ، درویش ، خانقاه و غیره درین مسیر جا دادند.

